# د کولوسیانو په نوم د پولوس رسول خط

## دُعا او وسلام

١ (١) دا خط د پولوس د طرف نه چې د خُدائ پاک په رضا د عیسیٰ مسیح رسول دے او زمونږ د ورور تیموتیوس د طرف
نه، (٢) او په مسیح کښې هغه ایماندارانو او وفادارو ورونړو او خوېندو ته چې په کولوسی کښې دی. زمونږ د خُدائ پلار د طرف
نه دې په تاسو فضل او سلامتی وی. (٣) چې کله مونږ ستاسو دپاره دُعا کوُو نو مونږ د خُدائ پاک، یعنې د مالِک عیسیٰ مسیح
د پلار شُکر کوُو، (٤) ځکه چې مونږ اورېدلی دی چې ستاسو په عیسیٰ مسیح ایمان دے او د ټولو مقدسینو سره مینه کوئ،
(٥) ستاسو د هغه اُمید په وجه کوم چې په آسمان کښې ستاسو انتظار کوی. تاسو د وړاندې نه د دې اُمید په حقله په رښتینې
کلام یعنې زېری کښې اورېدلی دی. (٦) هم دغه زیرے چې تاسو ته راورسېدو، په ټوله دُنیا کښې خورېږی او مېوه نیسی. لکه
څنګه چې یې ستاسو په مینځ کښې هم مېوه ونیوله د هغه ورځې نه چې تاسو د اول ځل دپاره دا زیرے واورېدو او د خُدائ پاک
د فضل په حقله په حقیقت پوهه شوئ. (٧) تاسو زمونږ د خوږ خادِم اِپفراس نه څوک چې په خِدمت کښې مونږ سره شریک
دے زده کړل. هغه د مسیح وفادار خادِم دے، او هغه ستاسو په ځائ زمونږ مدد کوی. (٨) هغهٔ مونږ ته ستاسو د هغه مینې په
حقله ووئیل چې تاسو ته روحُ القُدس درکړې ده. (٩) نو بیا د کومې ورځې نه چې مونږ په اول ځل ستاسو په حقله واورېدل، نو
مونږ ستاسو دپاره دُعا نهٔ ده بنده کړې. او د خُدائ پاک نه دا خواست کوُو چې هغه دې تاسو ته د خپلې مرضۍ پوره عِلم او
روحانی پوهه او حکمت درکړی، (١٠) د دې دپاره چې تاسو د مالِک لائق ژوند تیر کړئ او په هره طریقه هغه راضی کړئ او په
هر نېک کار کښې مېوه ونیسئ او د خُدائ پاک په عِلم کښې ترقی وکړئ. (١١) او زمونږ دا دُعا ده چې تاسو دې د هغهٔ په ټول
جلالی قدرت سره مضبوط شئ چې په تاسو کښې دې لوئ زغم او صبر پیدا شی. او تاسو دې په خوشحالۍ معمور شئ. (١٢) د
پلار شُکر ادا کوئ چا چې تاسو د دې جوګه کړئ چې د مقدسینو سره یې د نُور د بادشاهۍ په وراثت کښې شریک کړئ. (١٣)
هغهٔ مونږ د تیارې د بادشاهۍ د اختیار نه آزاد کړُو او د خپل محبوب زوئ په بادشاهۍ کښې یې داخل کړُو، (١٤) چا کښې چې
مونږ ته خلاصون، یعنې د ګناهونو نه معافی حاصله ده.

## د حضرت عیسیٰ مسیح عظمت او کار

(١٥) مسیح د نالیدلی خُدائ پاک صورت او د ټولو مخلوقاتو نه اول پیدا شوے دے. (١٦) ځکه چې د هغهٔ په وسیله ټول څیزونه
پیدا شول چې په آسمان کښې دی یا په زمکه، لیدونکی دی یا نالیدونکی دی، تختونه دی کهٔ ریاستونه کهٔ حکومتونه یا اختیارات
دی، هر څهٔ د مسیح په وسیله او د هغهٔ دپاره پیدا شُو. (١٧) او هغه په خپله د ټولو څیزونو نه اول پیدا شوے دے او ټول څیزونه
په خپله یو ځائ قائم ساتی. (١٨) او هغه د بدن، یعنې د جماعت سر دے، هغه ازل دے، او د مړو نه اول ژوندے شوے دے د
دې دپاره چې په هر څهٔ کښې د هغهٔ درجه اول وی. (١٩) ځکه چې د خُدائ پاک دا خوښه وه چې د هغهٔ ټول الوهیت دې په
مسیح کښې وی. (٢٠) او د هغهٔ په وسیله خُدائ پاک راضی شو چې هر څهٔ د ځان سره پخلا کړی هغه کهٔ په زمکه وی او کهٔ په
آسمان کښې او هغهٔ د مسیح د وینې په وسیله امن راوستو چې په سولۍ تویه شوې ده. (٢١) یو وخت تاسو پخپله هم د خُدائ
پاک نه لرې وئ او د خپلو سوچونو او بدو اخلاقو په وجه د هغهٔ مخالفین وئ. (٢٢) خو اوس د مسیح د جسمانی مرګ په وسیله
تاسو د هغهٔ سره پخلا شوئ د دې دپاره چې هغه تاسو د هغهٔ په حضور کښې مقدس، بېداغه او بېاِلزامه حاضر کړی، (٢٣) کهٔ
تاسو د ایمان په بنیاد مضبوط او ټینګ پاتې شئ او هغه اُمید پرې نهٔ ږدئ کوم چې د زیری په اورېدو ستاسو په زړونو کښې پیدا
شوے دے. هغه زیرے چې ټولې دُنیا ته واورولے شو، او زهٔ پولوس هم د دغه زیری خادِم شوم.

## د جماعت دپاره د پولوس رسول خِدمت

(٢٤) زهٔ اوس په هغه کړاونو کښې خوشحاله یم کوم چې ستاسو دپاره تېروم. ځکه چې زهٔ په خپل بدن کښې د مسیح د بدن یعنې

د جماعت دپاره د مسیح د کړاونو هغه کمے پوره کوم، کوم چې لا تر اوسه پورې پاتې دے. ۲۵ د خُدائ پاک د هغه اِنتظام په مطابق زۀ د جماعت خادِم شوم چې ما ته ستاسو دپاره راکړے شوے دے، د دې دپاره چې زۀ تاسو ته د خُدائ پاک کلام پوره پوره بيان کړم، ۲۶ يعنې هغه راز کوم چې د زمانو او پيړو راسې پټ وو خو اوس دا مقدسينو ته ښکاره شوے دے. ۲۷ خُدائ پاک غوښتل چې تاسو غېريهوديانو ته هم دا بېحده شاندار او قيمتى راز ښکاره کړى، او هغه راز دا دے چې مسیح په تاسو کښې دے او هغه د راتلونکى جلال اُميد دے. ۲۸ نو چې مونږ د هغۀ زيرے بيان کړُو او هر چا ته نصيحت وکړُو او هر يو ته په پوره هوښيارتيا سره تعليم ورکړُو نو چې هر څوک مونږ په مسیح کښې خُدائ پاک ته بالغ پېش کړُو. ۲۹ د دې دپاره زۀ د مسیح د هغه قوت په مطابق د زړۀ نه خوارى کوم چې په ما کښې په زور اثر کوى.

٢ ۱ زۀ غواړم چې تاسو پوهه شئ چې زۀ ستاسو دپاره او د لوديکيانو د جماعت دپاره او د هغوئ ټولو دپاره چا چې زۀ مخامخ نۀ يم ليدلے، څومره خوارى کوم. ۲ زۀ غواړم چې هغوئ زړَور شى او د مينې په تار د يو بل سره وګنډلے شى، د دې دپاره چې هغوئ پخپله پوهه پوره اعتماد ولرى او د خُدائ پاک د هغه راز په منصوبه پوهه شى، کوم چې مسیح په خپله دے، ۳ په چا کښې چې د حِکمت او عِلم ټولې خزانې پټې پرتې دى. ۴ دا زۀ تاسو ته د دې دپاره وايم چې څوک تاسو په دروغژن بحثونو دوکه نۀ کړى. ۵ کۀ څۀ هم چې زۀ اوس ستاسو نه لرې يم خو په روح کښې تاسو سره يم، او زۀ په دې خوشحاله يم چې تاسو وګورم چې څومره په ښې طريقې سره ژوند تېروئ او په مسیح باندې ستاسو ايمان پوخ او مضبوط دے.

## په حضرت عيسىٰ مسیح کښې د ژوندون معمورتيا

۶ نو بيا څنګه چې تاسو عيسىٰ مسیح د خپل مالِک په توګه قبول کړو، نو هم هغه شان په هغۀ کښې ژوند تېروئ. ۷ په هغۀ کښې جرړې خورې کړئ او خپل ژوند په هغۀ باندې آباد کړئ، او په ايمان کښې مضبوط شئ څنګه چې تاسو ته تعليم درکړے شوے وو او شُکر ادا کوئ. ۸ خيال کوئ هسې نه چې څوک مو په تشو فلسفو او دوکه مارو خبرو کښې راګېر کړى، څکه چې د هغوئ خبرې د انسانى رواياتو او د دُنيا د بنيادى اصُولو په مطابق دى او د مسیح په مطابق نۀ دى. ۹ څکه چې په مسیح کښې الوهيت په مکمل توګه مجسم شوے دے. ۱۰ او تاسو په مسیح کښې معمور شوى يئ څوک چې د هر حاکِم او اختيار سر دے. ۱۱ کله چې تاسو په مسیح ايمان راوړو نو تاسو په جسمانى توګه سنت شوى نۀ وئ. مسیح تاسو په روحانى توګه سنت کړئ او ستاسو د ګناه فطرت يې ختم کړو. ۱۲ تاسو د مسیح سره په بپتسمه کښې ښخ شوئ او د ايمان په وسيله د خُدائ پاک په قدرت کښې هم تاسو د هغۀ سره بيا راژوندى شوئ چا چې هغه د مړو نه راپاڅولے دے. ۱۳ تاسو د خپلو نافرمانو په وجه مړۀ وئ څکه چې ستاسو د ګناه فطرت ختم شوے نۀ وو. نو بيا خُدائ پاک تاسو د مسیح سره راژوندى کړئ، څکه چې هغۀ ستاسو ټولې نافرمانۍ معاف کړې. ۱۴ هغه څۀ چې د شريعت په مطابق زمونږ خلاف جرم وو هغۀ هغه ټول ريکارډ ختم کړو. هغه يې يو خوا ته کړل او په سولۍ يې مېخ کړل. ۱۵ دغه شان هغۀ د روحانى حاکمانو او د اختيار د خاوندانو نه وسلې واخستلې، او هغوئ يې په خلقو کښې رسوا کړل او د سولۍ په وسيله يې په هغوئ کاميابى حاصله کړه. ۱۶ نو په دې وجه څوک مۀ پرېږدئ چې په تاسو د خوراک ښښاک يا د اختر يا د نوې مياشت يا د سبت د ورځې په معامله کښې اِلزام ولګوى. ۱۷ څکه چې دا صرف د راتلونکو څيزونو سورے دے خو حقيقت په مسیح کښې دے. ۱۸ چا ته هم وخت مۀ ورکوئ چې خپل ځان دې ښۀ وګڼى او تاسو دې مجرم کړى. هغوئ خپل ځان په ظاهرى عاجزى ښودلو سره او د فرښتو په عبادت کولو او د روياګانو د ليدو په تفصيلى بيان سره نور خلق مجبوروى. او د هغوئ غېر روحانى ذهن هغوئ پرسولى دى. ۱۹ او هغوئ د بدن د سر يعنې مسیح سره تعلق پرېښے دے. څکه چې په هغۀ کښې د بدن ټول بندونه او پلې په خپلو کښې يو ځائ کيږى او خُدائ پاک ورله وده ورکوى.

## په حضرت عيسىٰ مسیح کښې نوے ژوندون

۲۰ نو چې تاسو د مسیح سره مړۀ شوئ او هغۀ تاسو د دُنيا د بنيادى اصُولو نه آزاد کړئ، نو بيا تاسو ولې په دُنياوى اصُولو ژوند تېروئ؟ او د هغې حُکمونه داسې منئ چې، ۲۱ "دې ته لاس مۀ وروړئ، دا مۀ څکئ، مۀ ورسره لګئ؟" ۲۲ خو د دغه

ځیزونو په حقله حُکمونه صرف انسانی تعلیمونه دی چې په استعمالولو کښې به ختم شی. (۲۳) داسې حُکمونه خو په ظاهره
عقلمند ښکاری هغه دا چې د خپلې مرضئ په مطابق سخت عبادت او دروغژنه عاجزی او د فقیرانو په شان ژوند تېرول، خو دا
د انسان په نفسانی شوقونو قابو نهٔ شی راوستلے او بېفائدې دی.

۳ (۱) نو تاسو چې د مسيح سره بيا راژوندی شوئ نو تاسو بره د آسمانی ځیزونو لټون کوئ، چرته چې مسيح د خُدائ پاک
ښی لاس ته ناست دے. (۲) د آسمانی ځیزونو په حقله سوچ کوئ او د دُنیاوی ځیزونو په حقله سوچ مهٔ کوئ. (۳) ځکه چې
تاسو مړهٔ شوی یئ خو ستاسو ژوند د مسيح سره په خُدائ پاک کښې پټ دے. (۴) کله چې مسيح څوک چې ستاسو ژوندون
دے راښکاره شی نو تاسو به هم د هغهٔ سره په جلال کښې ښکاره شئ. (۵) نو هم په دې وجه هر هغه خواهش مړ کړئ کوم چې
ستاسو دُنیاوی فطرت سره تعلق ساتی لکه زناکاری، پلیتی، شهوت پرستی، بد خواهشات او حرص چې بُت پرستی ده. (۶)
ځکه چې د دې په وجه د خُدائ پاک غضب په هغه چا نازلیږی څوک چې نافرمانه دی. (۷) څهٔ وخت تاسو هم د دې دُنیا برخه
وئ او داسې ژوند مو تېرولو. (۸) خو اوس تاسو له په کار دی چې د غصې، قهر، بدخواهئ، چُغلی او سپکې خبرې پرېږدئ.
(۹) یو بل ته دروغ مهٔ وایئ ځکه چې تاسو خپل زوړ د ګناه فطرت د دې د عملونو سره اخوا کړو، (۱۰) تاسو نوے فطرت خپل
کړئ، او داسې نوی شئ لکه څنګه چې تاسو د خپل خالق په حقله معرفت حاصل کړو او ورسره ورسره د هغهٔ په شان شئ.
(۱۱) په دې نوی ژوند کښې نهٔ یهودی پاتې شو، نهٔ غېر یهودی، نهٔ سنت شوی، نهٔ ناسنته، نهٔ بهرنی، نهٔ وحشی، نهٔ غلام او نهٔ آزاد،
بلکې مسيح په تاسو ټولو کښې هر څهٔ دے. (۱۲) نو بيا چې خُدائ پاک تاسو غوره او مقدس وګرځولئ او درسره یې مینه وکړه
نو بيا د زړهٔ سواندی، مهربانئ، شرافت، عاجزی، او صبر جامې واغوندئ. (۱۳) یو بل برداشت کوئ، او کهٔ د یو بل خلاف مو
څهٔ شکایت وی نو هغه داسې معاف کړئ لکه څنګه چې تاسو مالِک معاف کړئ. (۱۴) او د دې هر څهٔ نه بغېر تاسو په خپلو
کښې د مینې جامې واغوندئ چې هغه هر څهٔ په پوره یووالی سره په خپلو کښې یوځائ کوی. (۱۵) نو د مسيح سلامتی دې
ستاسو په زړونو حکومت وکړی ځکه چې تاسو د یو بدن د اندامونو په طور د سلامتی دپاره رابللے شوی یئ. او شُکر ګزاری هم
کوئ. (۱۶) د مسيح کلام دې ستاسو په زړونو کښې ډېر ځائ ومومی، او په خپلو کښې یو بل له پوره حکمت سره تعلیم ورکوئ
او نصیحت کوئ، او په خپلو زړونو کښې د شُکر ګزارئ سره د خُدائ پاک ثناء، زبور او روحانی سندرې وایئ. (۱۷) او هر څهٔ
چې تاسو کوئ، هغه کهٔ تاسو خبرې کوئ یا څهٔ کار، هر څهٔ د مالِک عیسیٰ په نوم کوئ او د هغهٔ په وسیله د خُدائ پلار شُکر ادا
کوئ.

## د مسیحی خاندان دپاره د ژوندون طریقه

(۱۸) اے میرمنو، تاسو د خپلو خاوندانو تابعدارې اوسئ ځکه چې دا په مالِک کښې ستاسو فرض دی. (۱۹) اے خاوندانو، د
خپلو ښځو سره مینه کوئ او د هغوئ سره ترخیږئ مه. (۲۰) اے بچو، د مور پلار هره خبره منئ ځکه چې په دې مالِک خُدائ
خوشحالیږی. (۲۱) اے پلارانو، خپل بچی مهٔ تنګوئ، هسې نه چې هغوئ زړهٔ بائیلی. (۲۲) اے نوکرانو، تاسو د خپلو دُنیاوی
مالِکانو په هر څهٔ کښې تابعداری کوئ، او دا نهٔ صرف د هغوئ په موجودګئ کښې چې هغوئ خوشحاله کړئ، بلکې د زړهٔ د
اخلاصه او د مالِک د احترام دپاره یې کوئ. (۲۳) هر څهٔ چې تاسو کوئ د زړهٔ په مینه یې کوئ لکه چې دا تاسو د مالِک دپاره
کوئ، او نهٔ چې د بنی آدمو دپاره. (۲۴) ځکه چې تاسو ته پته ده چې د مالِک د طرف نه به د دې په اجر کښې تاسو ته میراث
مِلاو شی. تاسو د مالِک مسيح خِدمت کوئ. (۲۵) ځکه چې څوک بد کوی هغهٔ ته به د خپلې بدئ سزا مِلاو شی، ځکه چې خُدائ
پاک د چا طرفدارے هم نهٔ کوی.

## د کلام بیانول

۴ (۱) اے مالِکانو، د خپلو نوکرانو سره د عدل او اِنصاف سلوک کوئ ځکه چې تاسو ته پته ده چې په آسمان کښې ستاسو
هم یو مالِک شته. (۲) خپل ځانونه په دُعا کښې مشغول کړئ او بیدار اوسئ او شُکر ګزاری کوئ. (۳) او مونږ دپاره هم دُعا

کوئ چې خُدائ پاک مونږ ته د کلام دپاره ور کولاو کړی چې مونږ د مسيح هغه راز بيان کړُو چې د کوم په سبب زهٔ قېد کښې
يم، ۴ دُعا کوئ چې زهٔ د هغه کلام داسې وضاحت وکړم څنګه چې ما له کول په کار دی. ۵ د بې‌ايمانانو سره د هوښيارتيا
سلوک کوئ او د هرې موقعې نه فائده اخلئ. ۶ ستاسو کلام دې هميشه د فضل نه ډک او خوندور وی چې تاسو هر چا ته
مناسب جواب ورکولے شئ.

## آخری سلام

۷ تخيکوس به تاسو ته زما په حقله ټولې خبرې وکړی. هغه زمونږ ګران ورور، وفادار خِدمتګار او د مالِک په کار کښې زمونږ
ملګرے دے. ۸ ما هغه تاسو ته د دې مقصد دپاره درولېږلو چې تاسو زمونږ په حال خبر کړی او چې هغه ستاسو زړونو له
ډاډګيرنه ورکړی. ۹ هغهٔ سره زمونږ خوږ ايماندار ورور اونيسيموس درځی څوک چې ستاسو نه يو دے. هغوئ به تاسو ته د
دې ځائ په حقله ټولې خبرې بيان کړی. ۱۰ اريسترخوس چې ما سره قېدی دے، سلام درلېږی، او دغه شان د برنباس ترېور
مرقوس هم، د چا په حقله چې تاسو ته حکم درکړے شوے وو چې کهٔ هغه تاسو له راغلو نو هرکلے يې وکړئ، ۱۱ او عيسىٰ
چې ورته يوستوس وائی هغه هم درته سلام وائی. د يهوديانو نه صرف دا درې کسان دی چې د خُدائ پاک د بادشاهۍ په کار
کښې زما ملګری دی او په هغوئ زما لويه تسلی ده. ۱۲ اِيفراس چې ستاسو نه يو دے او د عيسىٰ مسيح خادِم دے هغه هم
تاسو ته سلام وائی. هغه هميشه تاسو دپاره لاس په دُعا دے چې ستاسو ايمان مضبوط شی، او د خُدائ پاک د پوره مرضۍ په
مطابق خپل ژوند تېر کړئ. ۱۳ زهٔ د هغهٔ ګواهی ورکوم چې هغه ستاسو دپاره او د لوديکيه او د هيراپولس د خلقو دپاره ډېره
زياته خواری کوی. ۱۴ زمونږ خوږ ملګری او طبيب لوقا او ديماس درته سلام وائی. ۱۵ د لوديکيه ورونړو او خوېندو او نِمفا
ته او د هغې په کور کښې د جماعت خلقو ته زما سلام ووايئ. ۱۶ نو کله چې تاسو دا خط ولولئ، نو بيا دا د لوديکيې جماعت
ته ولېږئ چې هغوئ يې هم ولولی. او تاسو دا خط کوم چې ما هغوئ ته وليکلو ولولئ. ۱۷ او ارخيپوس ته ووايئ چې، ”کوم
خِدمت چې په مالِک کښې تا ته سپارلے شوے دے، هغه پوره کړه.“ ۱۸ زهٔ پولوس په خپل لاس تاسو ته سلام ليکم. زما په
لاس پښو کښې زولنۍ مهٔ هېروئ او په تاسو دې د خُدائ پاک فضل وی.

pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹